مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۰/۱۲/۲۲

# دا څنګه پښتون یم؟

تیتي سترګي ګورم، سر ترلی په زنګون یم،
دا څنګه پښتون یم؟
ورک رانه مسجد، ممبر، حجره ده، جګرخون یم،
دا څنګه پښتون یم؟

موږه هر قاتل ته تل، مدام په ګوندو شوي یو،
اور کښي لمبه شوي یو
سل ځلي په خپلو او پردو باندي خرڅ شوي یو،
اور کښي لمبه شوي یو
نن حالات چي وینم په ارمان کښي د پرون یم،
دا څنګه پښتون یم؟

نیمه پیری وشوه، نسل، نسل مي تباه دی،
هر څوک په ژړا دی
حال زموږ د ژوند تولي نړۍ ته برملا دی،
هر څوک په ژړا دی
نوم ژبو کښي پاتي د وحشت او د جنون یم،
دا څنګه پښتون یم؟

مړاوي د غوندیو په لمن کښي مره ګلان دي،
تږي د باران دي
راشی د رحمت وریځو چي ستاسو په ارمان دي،
تږي د باران دي
زه هم په یوه څاڅکي اوبو پسي زبون یم،
دا څنګه پښتون یم؟

څومره لګېدلی په نېزو پاس په ځیګر یم،
پروت پرهر، پرهر یم
زه د پښتونخوا د دنګو، دنګو غرو نښتر یم،
پروت پرهر، پرهر یم
زه پسرلی هر وخت ځپل شوی په سمون یم،
دا څنګه پښتون یم؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ